### مطبوعاتي اعلاميه

## پخواني مجاهدين په ځلونو د امريکا له نېشه چيچل کېږي؛
## نو څه وخت عبرت اخلي!؟

دا څووم ځل دی چې امریکا د پخوانیو مجاهدینو هڅو او سزښندنو ته پاملرنه نه کوي او لرې یې غورځوي. په بدل کې یې هغه ژمنه مهره چې یو سیکولر او ډیموکراټ شخصیت دی او د مفکورې او احساساتو له مخې د افغانستان له مسلمانو سره هېڅ اړیکه نه لري، قدرت ته رسوي.

کله چې پخوانیو مجاهدینو په کلک عزم او اخلاص د شوروي اتحاد پر وړاندې جهاد او مبارزه وکړه، الله سبحانه وتعالی عزت او نصرت ورکړ، له همدې امله یې د خلکو په زړونو  کې ځای ونیو. خو په ۲۰۰۱ز کې له بن کنفرانس وروسته یو شمېر پخوانیو مجاهدینو د افغانستان سیاسي برخلیک او وثیقه په ډېرې سرټیټۍ او ذلت د اشغالګرې او کافرې امریکا منګولو ته وسپاره او عزت یې له امریکا او غرب سره په دوستۍ کې ولټاوه. له دې امله الله سبحانه وتعالی دوی امریکا ته پرېښودل؛ ځکه دا د الله سبحانه وتعالی سنت دی چې هره ډله چې اسلام ته نصرت ورکړي، بریالۍ او سرلوړې کوي یې او هره ډله چې د الله سبحانه وتعالی له دین سره خیانت وکړي، ذلیله او رسوا کوي یې.

امریکا په تېرو ۱۹ کلونو کې په خپل منفعت محوره سیاست یوه ډله پخواني مجاهدین د متاع او استهلاکي توکو په څېر وکارول. هغوی ته یې د امریکایي نظام د مشروعیت ورکولو لپاره په قدرت کې ونډه ورکړه او د کارېدلو د وخت له تېرېدو وروسته یې د قدرت او سیاست له صحنې وایستل. لکه څنګه یې چې د دوی ځینې مخکښ رهبران فزیکي او شخصیتي ترور کړل، نو تر ډېره د خلکو له سیاسي ملاتړه هم خلاص شول. له امریکا او ناټو سره دوستۍ هم د دغو رهبرانو اړیکه له خپل خالق سره خرابه کړه او هم یې په خلکو کې خپل اعتبار او مقام له لاسه ورکړ.

نن چې یو شمېر پخواني مجاهدين د «ټول شموله» حکومت دعوه لري، دا کوم اساسي دريځ نه دی چې د اسلام د مبدا پر اساس وي او يا د اشغالګرې امريکا اجنډا وګواښي، بلکې دا کار د همغو تېرو سياسي تېروتنو تکرار دی، چې موخه يې امتياز اخيستل دي او د دوی له لاسه وتلي قدرت او عزت سره هېڅ مرسته نه کوي.

حزب‌التحرير يو ځل بيا مخلصانه تذکر ورکوي چې اوس هم د جبران فرصت شته، چې له خيانتونو او مکررو ترسره شوو حوادثو عبرت واخلي او الله سبحانه وتعالی ته توبه وباسي. پر دې سربېره د امريکايي اشغال او د جمهوريت او ډيموکراسۍ د مفکورو پر وړاندې په درېدو او د اسلامي ارزښتونو د حاکمولو لپاره په مبارزه له الله سبحانه وتعالی او خلکو سره خپل عزت بيا ترلاسه کولی شي او له دې لارې خپلې ګناوې جبران کړي. الله سبحانه وتعالی رحمن او رحيم ذات دی او انسانان د خپلو اعمالو د خاتمې پر اساس محاسبه کوي. (**إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ**) نازعات:۲۶ آيت. له شک پرته په دې کې د هغه چا لپاره عبرت دی چې (له الله متعال څخه) ووېرېږي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**